د افغانستان اسلامي امارت

ستره محکمه

د دارالانشاء عمومي رياست

د تحریراتو آمریت

د تصاویبو مدیریت

د متحدالمآلونو څانګه

نېټه: ۲۲/ ۱۲/ ۱۴۴۴ هـ ق

مصادف: ۱۹/ ۴/ ۱۴۰۲ هـ ش

عاجل ☐ عادی ☐ اطمینانیه ☐ ابلاغیه ☐ ساير ☐

د متحدالمآل ګڼه: ۶۰

---

د افغانستان اسلامي امارت د تمیزونو، دیوانونو، مرافعه او ابتدائیه محکمو قدرمنو منسوبینو ته!

السلام علیکم ورحمت الله وبرکاته

وبعد: په تاریخ ۱۴۴۴/۱۲/۱۷هق چې د ۱۴۰۲ هجري لمریز کال د سرطان د میاشتې د څوارلسمې نېټې سره سمون خوري، د افغانستان اسلامي امارت د ستري محکمې د محترم رئیس او قاضي القضاة صاحب په مشرۍ د ستري محکمې د عالي شورا غونډه دائره شوه چې د یادي غونډې دریمه موضوع داسې وه: ((په جزائي موضوعاتو کې کله مدعی علیه د پیښې د ځای څخه فرار وکړي او په بل ځای کې ګرفتار شي موضوع يې د پیښې د ځای په محکمه کې حل او فصل شي که د ګرفتارۍ د ځای په محکمه کې؟ نو په دې اساس موضوع ستاسو محترم عالي مقام ته وړاندي شوه په اړه يې چې څرنګه ستاسو هدایت وي د هغه سره سم به اجرآت ترسره شي.))

د پورته ذکر شوي موضوع په اړه د ستري محکمې عالي شورا د تصویب نمبر(۴۵)مورخ ۱۴۴۴/۱۲/۱۷هق مصادف ۱۴۰۲/۴/۱۴هش د دریمې پریکړې په اساس په لاندي ډول هدایت وکړ:

((جنائي موضوعات او جرائم دوه قسمه دي: ۱ـ غیر ممتد. ۲ ـ ممتد.

۱ ـ غیر ممتد: لکه قتل، سرقت وغیره د پیښې د ځای محکمه يې د حل او فصل صلاحیت لري.

۲ ـ ممتد: لکه د ښځې فرار له کور څخه، په دغه صورت کې که مدعي ولري مدعي ته اختیار دی د پیښې د ځای په محکمه کې د خپلې موضوع حل او فصل کول غواړي او که د ګرفتارۍ د ځای په محکمه کې يې حل او فصل کول غواړي په دغه دوه محکمو کې چې کومي محکمې ته عارض سو هغه محکمه يې د حل او فصل صلاحیت لري، او که مدعي ونه لري د نیولو د ځای محکمه يې د حل او فصل صلاحیت لري.

همدارنګه د اختطاف په موضوعاتو کې که د اختطاف والا سره مختطف یو ځای ونیول شو حکم يې د ممتد دی مدعي اختیار لري چې په هره محکمه (د جرم د وقوع د محل محکمه یا د ګرفتارۍ محکمه) کې غواړي د موضوع د حل او فصل غوښتنه دې وکړي، او که یواځې اختطاف والا بې له مختطف څخه ونیول سو په دې صورت کې يې حکم د غیر ممتد دی او د موضوع د حل او فصل صلاحیت یواځې د پیښې د ځای د محکمې سره دی.))

بناءً د ستري محکمې د عالي شورا پورته تحریر شوی هدایت د دې متحدالمآل په توسط د افغانستان اسلامي امارت د ستري محکمې مربوط ریاستونو، تمیزونو، دیوانونو، مرافعه او ابتدائیه محکمو ته واستول شو تر څو د هغه په رڼا کې اصولي اجرآت تر سره شي.

په درنښت

مفتي عبدالرشید "سعید"

د ستري محکمې

د دارالانشاء عمومي رئیس

ستره محکمه

رياست عمومی دارالانشاء

۱۴۴۴ / ۱۲ / ۲۲ هـ ق

---

Address: Public health Square 9th District, Kabul-Af
Phone: 0202301138
Post box: 1989
Website: www.supremecourt.gov.af

پته: د صحت عامې څلور لارې، نهمه ناحیه، کابل- افغانستان
تیلفون: ۰۲۰۲۳۰۱۱۳۸
پست بکس: ۱۹۸۹
secretariat@supremecourt.gov.af